(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تار د رواجو

**ليکونکی: واجد « منګل »**

**ترتيب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيل

د شنو وښو درونډ پنډ يې له سره کښته کړ، غټ اسويلی يې وايست، په مخ را څوړند تور ويښته يې په ټيکري کې د ننه ايستل. د تېز لمر له امله يې خولو په مخ لارې جوړې کړې وې.

وروسته څو ګامونه وړاندې لاړه، غوا ته يې چې وړوکی خوسی څټه، اخور کې تازه واښه ور واچول. غوا اخور ته نيږدې شوه، د کلا په دروازه يو بوډا سری را ننوت، نجلۍ ژر د غوجلې د دېوال سيوري ته پټه شوه.

بوډا د کوټو ته جوړې چوترې ته رسېدو کې په ډډ غږ وويل:

ـ جانداده مبارک شه!

يو دنګ ځوان له کوټې را ووت، خندل يې، په نا باورۍ يې وويل:

ـ کاکا ټوکې خو به نه کوې؟ څنګه راضي شول؟

بوډا په زيره لاس تېر کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا مې لمر ته نه ده سپينه کړې!

بيا يې لاسونه سر ته پورته کړل، په ژېړه لونګۍ کې يې شمله نېغه ودروله، په خندا يې وويل:

ـ داسې کيسې دې کاکا ته اسانه دي. شرط مې ورسره ومنلو. هغوی را نه ستا خور خپل زوی ته وغوښته او ما ومنله.

نجلۍ نېژدې وه چې له خولې يې چغې ووځي، له پښو يې ځمکه لاړه، د غوجلې په دېوال ور ړنګه شوه.

يوه ښځه له پخلنځي را ووته، تر شا يې يو دولس کلن ماشوم هم ور پسې وو.

ښځې په زوره سپين ږيري سړي ته چيغه کړه:

ـ زه مې خپله لور يو نشه يي ته نه ورکوم. رب دې تا سره....

ځوان ښځې ته مخ کړ، په تندي کې يې ګونځې پيدا شوې، په خشکه (غوسه) يې خبره ور بنده کړه:

ـ مورې! ته زما خوشحالي نه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمر پخه ښځه په ژړا کې ببرته پخلنځي ته ننوته...

چوپتیا وه، لیرې د انګړ یو کونج کې چرګې له خپلو کوچنیو چورګوړو سره د ونې لاندې سیوري ته څه خوړل.

ښه شیبه وروسته ماشوم د دېوال خوا ته ګامونه واخېستل، مخې ته یې د یو بنیادم سیورې جوړ شو، پاس یې وکتل، نجلۍ وه، په خوشحالۍ یې وویل:

ـ لالا ته یې ښځه وکړه.

نجلۍ لکه یو بې روحه تابوت، غلې ولاړه وه. له غټو سترګو یې کوچنۍ اوښکې وڅڅېدې، په ورو انداز یې غریو کې وویل:

لالا مې خپل ارمان پوره کړ!

زه یې په تار د رواجو تړلې یمه!

# پای